# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|



یونس نگاه
۰۹ سپتمبر ۲۰۲۳




**یونس نگاه**

# د هېواد د طالبي کولو پر ضد ډله ییز مقاومت

د طالب واکمنی د دوه کلنی په درشل کې، په دې اړه بحثونه تاوده شوي، چې د جمهوریت په شل کلنه موده کې باید څه شوي وای، د طالبانو په راتلو مو څه له لاسه ورکړي او طالبانو کوم ډول ظلمونه وکړل. د نیوکې، شکایت او نالښت لپاره ډېر دلایل لرو. موږ هیڅکله له وینو او جنایت ځخه په دغه ډکه لاره کې سفر مستحق نه وو، هغه لاره، چې د طالبانو د امارت له لومړي سقوط وروسته یې هم نښې موجودې وې، خو وروسته پکې د دیموکراتیزه کیدو پر بهیرونو لوبې پیل شوې، د سیاستوالو او خلکو اړیکې یو اړخیزې او فرمان ورکونکې شوې او وروسته دا هر اړیکه لا روښانه شوه. د ۲۰۲۱ ناورین په یوه وخت کې نه دی پیښ شوی، زموږ ملت په تدریجي ډول دې کندې ته را کاږل شوی دی. اوس چې یو ځل بیا د طالبانو په جال کې راګیر شوي یوو، ډېرو هېوادوالو ته ښایي هر څه تیاره ښکاره شي ځکه لا مطرح اپوزیسیون، د مبارزې تود سنګر او سراسري او سازمان شوې مبارزه تراوسه نه ده رامنځته شوې او زموږ د سیاسي او ټولنیز ژوند روښانونکي ټکي چندان نه ترسترګو کیږي. له دې سره بیا هم، نه د طالبانو پر وړاندې مقاومت او نه هم د پرمختګ او ازادۍ په لور زموږ د خلکو خوځښت د طالبانو د تمې خلاف، ودرول شوی نه دی. واقعیت دا دی، چې په ټول افغانستان کې د طالبانو او غیر طالبانو تر منځ جنجال دوام لري، او طالب مشران د نورو په پرتله ډېر احساسوي، چې د ملت مقاومت یې ورځ تر بلې پر وړاندې زیاتیدونکی او پیاوړی کیدونکی دی. د دوی په فرمانونو او ویناو کې، د دوی په مرکو او اخطارونو کې د ولس د دغه مقاومت او مخالفت اغېزې لیدل کیدای شي.

هغه نظام چې طالبان یې په افغاني ټولنه کې غواړي، په تېرو دوو کلونو کې یې ملي ازموینه ګام پر ګام ناکامي لري، ځکه خلکو سلګونه ځله دغې ډلې او د هغوی جاهلانه ارمانونو ته یې سور کارت پورته کړی دی. طالبانو، چې هر ځل چې د خلکو د ژوند د بنې، ټولنیزو اړیکو، اخلاقي اصولو او بشري حقونو خلاف کړی او د شریعت خلاف او فاسد یې اعلان کړي، نه یوازې یې هرکلی نه دی شوی؛ بلکې له پراخ او ډله ییز مخالفت سره مخ شوي دي. خلکو په

ډېرو معقولو دلايلو د دوی مخته کاږلي کربښي جبري او ظالمانه ګڼلي او په نفرت او اوښکو يې بدرګه کړي دي. طالبانو د نجونو او ښځو لپاره ښوونځي او پوهنتونونه تړلي دي، خو د هېواد په هيڅ کومه څنډه کي يې دا کړنه نه ده نمانځل شوې؛ برعکس خلک يې ډلې- ډلې پر ضد لارو سړکونو ته راوتلي او د طالبانو دغه عمل يې نفرت زيږونکی ګڼلی، ځينو په غوسه ناکه خاموشی د دغې کړنې خلاف اعتراض کړی دی. طالبانو د ادارو مشري خپلو جنګياليو ته سپارلې او تحصيل کړي خلک يې له کاره ليرې کړي او وطن پرېښودو ته اړ کړي دي، د دې ډلې دغه کړنه هم د افغانستان په هيڅ څنډه کي نه ده نمانځل شوې. طالبانو قوانين لغوه کړي او د فرمانونو سيستم يې د مدني نظام ځای ناستی کړی، خو خلکو آفرين نه دی ورته ويلی. له خلکو سره د طالبانو د ناکاميو ليست ډېر اوږد دی، د دغې ډلې پر وړاندې مقاومت په کورونو، ښوونځيو، پوهنتونونو، بازارونو او سړکونو کي بې له ځنډه دوام لري. د غير طالبانو تر ټولو مهم قوت دا دی چې سم لوري ته لېواله دي، دوی پوهيږي هيوادوال به د بشري حقونو تر پښو لاندې کول يې تردېره ونه زغمي، د ظالمانو تر شا به ونه دريږي، د زده کړو، کار او ازادۍ د دښمنانو واکمني به ونه مني او د طالبانو د ظلم څرخ به آخر پای ته ورسيږي.

اوس د دې وخت دی، چې د ناکاميو ارزونه او د هغو شيانو حساب وکړو، چې د طالبانو واکمنۍ زموږ له ملت څخه اخيستي دي، د ټولنې د طالبي کولو پروژې پر وړاندې د ملت ټوليز مقاومت ته له دغه پړاو څخه د وتو د اصلي مسير په توګه پاملرنه وکړي او دا مقاومت په يوه لوی او سازمان شوي پوتانسيل بدل او د يوه لوی او پريکنده بدلون لپاره ترې کار واخلو.